# د بيع وفاء حکم په اسلامي معاملاتو کې

سيدمحمود مقصودي

**مقدمه**
الحمدلله رب العلمين والصلاۀ والسلام على سيدالمرسلين محمد وآله واصحابه اجمعين.

وبعد: د اسلام مبارک دين کامل او له عيبونو خالي دين دی، هرکله چې په مسلمانانو باندې يو کار سخت شي حتما له بله لوريه ورباندې د آسانی دروازې پرانستل کيږي، نو هرکله چې په گروی کې مسلمانان په يو څه مشکلاتو کې گيرۀ، يو شمېر فقهي علماؤ په آسانی او يسر باندې امر وکړو، څرنگه چې د گرو شوي مال څخه د جمهورو علماؤ په نزد استفاده جائزه نده له همدې وجهې زمونږ د زماني يوشمېر علماؤ د بيع وفاء په جواز باندې حکم وکولو، خو ټول علماء په دې حکم باندې اتفاق نلري.

له بلې خوا زمونږ د جامعي خلک کور، ځمکه او داسي نور عقارات په گرو باندې نيسي، خو په ځيني صورتونو کې دا معامله د اسلام له نظره روا نوي، په همدې خاطر مې و غوښتل چې د يو تحقيق په ترڅ کې په دې موضوع باندې رڼا واچوم د جواز او عدم جواز صورتونه يې بيان کړم، تر څو د نفيي او اثبات دلائل معلوم او راجح قول په لاس راشي. چې په نتيجه کې دا موضوع مسلمانانو ته واضح شي او خپل معاملات د اسلامي اصولو پر بنسټ باندې ترتيب کړي.

په دې مقاله کې د حنفي مذهب له معتبرو کتابونو څخه استفاده شوې ده، چې د منابعو په فهرست کې ذکر شوي دي.

په دې موضوع کې لاندې مسائل بيان شوي دي.

١. دبيع وفاء تعريف.
٢. د رهن (گروي) تعريف.
٣. د گروی حکم.
٤. د بيع وفاء حکم.

په حقيقت کې دا هره شمېره يو سوال دی چې بايد جواب کړل شي.

**دبيع وفاء تعريف**
بيع وفاء په لغت کې په قاهره کې د بيع الامانة، او رهن المعاد په نامه هم يادېږي، او فقهاء بيع الوفاء ورته وايي، يعني په وعده وفاء کول.

په اصطلاح کې بيع وفاء داده چې بايع مشتري ته ووايي، دا څيز مې د هغه قرض په بدل در باندې پلورلی، چې پر ما باندې يې لرې، په دې شـرط چې هرکله مې ستا قرض اداء کړو دا څيز به پس زما وي.

او یا ووایي: دا څیز مې په دغه قیمت در باندې پلورلي دي، په دې شـــرط چې هرکله مې دا قیمت درکړو دا څیز به پس ماته را کوې[1].

**د رهن تعریف**

رهن په لغت کې: (حبس الشــيء بأي سـبب کان)، یعني حبس کول د یو شــي دي په هرسـبب چې وي.

رهن په اصطلاح کې: جعل الشيء محبوسا بحق یمکن استیفاؤه من الرهن کالدیون: یعني حبس کول د یو شي دي چې خپل حق له هغه څخه تر لاسه کیدای شي[2].

**د رهن مشروعیت:**

١. قال الله تعالی: {فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ} [البقرة:٢٨٣] پس لازمه ده، چې ګرو قبض شي.

٢. عَنْ عَائِشَـةَ رَضِـيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ اشْـتَرَى مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَامًا إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ، وَارْتَهَنَ مِنْهُ دِرْعًا مِنْ حَدِيدٍ»[3]. له حضـــرت عایشـــې رضـــی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوه یهودي څخه تر یوې ټاکلې مودې پورې طعام اخیستی ؤ، او خپله زِرِ یې په ګرو کې ورته ایښودلي وه.

٣. همدارنګه د ګروی په جواز اجماع هم ثابته ده.

٤. او ګروی د خپل مال د لاسته راوړلو لپاره یو توثیق دی؛ نو د وجوب په باب کې هم د توثیق سره ملحق کیږي چې هغه کفالت دی[4].

**د رهن شوي مال حکم**

مرتهن له رهن شوي مال څخه هیڅ نوع استفاده نشي کولای، نه استخدام، نه سکنی، نه لبس... مګر د مالک په اجازه، ځکه مرتهن د انتفاع حق لري نه د حبس.

همدارنګه مرتهن هغه څیز نه خرڅولای شـــي او نه یې په اعاره ورکولای شــي؛ مګر د راهن په اجازه[5].

حتی ابن نجیم مصري ویلي: مرتهن د راهن په اجازه هم له رهن څخه استفاده نشی کولای[6].

---

[1] – البحرالرائق: ج۶ص۸.

[2] – الهدایه: ج۴ ص۴۱۲.

[3] – صحیح البخاری: ج۳ ص۸۶، حدیث شماره: (۲۲۵۲).

[4] – الهدایه: ج۴ ص۴۱۲.

[5] – الهدایة: ج۴ ص۴۱۵.

[6] – الاشباه والنظائر: ج۱ ص۲۸۹.

هیڅ یو د راهن او مرتهن نشي کولای چې رهن شوې ځمکه کشت کړي او یا یې بل چاته په اجاره باندې ورکړي[1].

راهن نشي کولای د شخصي منفعت لپاره له مرتهن څخه رهن شوی مال مسترد کړي، ځکه چې په دې کار سره یې رهن شوی مال حبس کېږي چې راهن یې صلاحیت نلري[2].

**د بیع وفاء حکم**

بیع وفاء بیع ده که رهن؟ دوه نظره دي، چې په لاندې ډول بیانېږي.

**۱. بیع وفا رهن ده.**

شیخ نجم الدین نسفي ویلي: هغه بیع چې زمونږ په زمانه کې د سود خوړلو لپاره حیله جوړه شوې په بیع وفاء سره نومېږي. په حقیقت کې رهن ده، مبیعه د مشتري په لاس کې داسې ده لکه رهن د مرتهن په لاس کې، چې نه د هغه مالک کېدلای شي او نه هم له هغه نه استفاده کولای شي مګر د مالک په اجازه. که دا مال تلف شي، یا یې میوه وخوري، یا یې ونې استهلاک شي په دې ټولو صورتونو کې ضامن بلل کېږي، که مبیعه هلاکه شي او قیمت یې د دین په اندازه وي، دین هم ساقطېږي. هرکله چې بایع قرض ورکړي کولای شي ګرو شوی جنس واپس واخلي. بناءً زمونږ په نزد بیع وفاء په هیڅ حکم کې د رهن سره تفاوت نه لري، ځکه متعاقدین که څه هم هغه ته بیع وایي؛ خو غرض یې رهن او دخپل قرض توثیق او ساتل دي، ځکه بایع تر دې عقد ورسته هرچاته وایي چې: (خپل ملک مې پلاني ته ګرو کړی)، مشتري وایي: (دپلاني ملک مې ګرو کړی)، په تصرفاتو کې مقاصدو او معانیو ته اعتبار ورکول کېږي نه الفاظو او مبانیو ته، په هم دې نظر باندې سید ابو شجاع هم ؤ[3].

څرنګه چې د مجلة الاحکام (۳) ماده ده: الْعِبْرَةُ فِي الْعُقُودِ لِلْمَقَاصِدِ وَالْمَعَانِي لَا لِلْأَلْفَاظِ وَالْمَبَانِي وَلِذَا يَجْرِي حُكْمُ الرَّهْنِ فِي الْبَيْعِ بِالْوَفَاءِ[4].

یعنی: په عقودو کې مقاصدو او معانیو ته اعتبار ورکول کېږي نه الفاظو او مبانیو ته، له همدې وجهې بیع وفاته د رهن حکم ورکول کېږي.

ابن عابدین د خیریې نظر داسې نقل کوي چې: د اکثرو علماؤ په نزد د بیع وفاء او رهن تر مینځ په هیڅ حکم کې فرق نشته دی[5].

**۲. بیع وفاء بیع ده**

په مجمع النوازل کې راغلي، په دې زمانه کې اتفاق د مشائخو بیع وفاء بیع ده، لکه چې بعضې سلفو هم همدغه ته نظر لرلو.

---

[1] – البحرالرائق: ج۸ص۲۷۲.

[2] – الهدایه: ج: ۴ ص: ۴۱۳.

[3] – دررالحکام شرح غررالاحکام:ج۲ ص۲۰۷.

[4] – مجلة الاحکام العدلیة، ماده: (۳).

[5] – ردالمحتار: ج۵ص۲۷۶.

ځکه چې بايع او مشتري له کوم شرط پرته په بيع باندې تلفظ کوي، اعتبار لفظ ته دی، چې منصوص دی نه مقصود ته، مثلاً: که څوک په دې نيت باندې ازدواج کوي چې تر جماع ورسته به طلاق ورکوي دا عقد صحيح دی. بعضې وايي چې ددې قول قائل قاضي خان دی[1].

مجلة الاحکام د خلکو د ضرورت او حاجت په خاطر بيع وفاء جائز بللې ده. په (۳۲) ماده کې داسې وايي: الْحَاجَةُ تُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الضَّرُورَةِ عَامَّةً أَوْ خَاصَّةً، وَمِنْ هَذَا الْقَبِيلِ تَجْوِيزُ الْبَيْعِ بِالْوَفَاءِ، حيث أنَهُ لَمَّا كَثُرَتْ الدُّيُونُ عَلَى أَهْلِ بُخَارَى مَسَّتْ الْحَاجَةُ إلَى ذَلِكَ وَصَارَ مَرْعِيًّا[2].

يعني: حاجت خاص وي که عام د ضروت په شان دی، له همدې جملې څخه جواز د بيع وفاء هم دی، ځکه هرکله چې د بخارا په خلکو باندې قرضونه زيات شول بيع وفاء ته ضرورت پيدا شو او داحکم مرعی الاجراء دی.

**بيع وفاء د فقهاؤ له نظره**

يوه بيعه ده چې په قاهره کې بيع الامانة ورته وايي، او د رهن المعاد په نوم باندې هم يادېږي، او د فقهاؤ په نزد بيع الوفاء ورته ويل کيږي.

ابن نجيم مصري په بحرالرايق کې د بيع وفاء په هکله باندې د فقهاؤ (۸) آته لاندې قولونه نقل کړي دي.

۱. دمنظومي مصنف وايي بيع وفاء په حقيقت کې رهن ده، نو مشتري د هغه مالک نشي کيدلای او نه هم له هغه څخه د بايع د اذن پرته استفاده کولای شي، که هغه خوراکي شی وي په خوړلو سره يې، يا ونه وی او له ده څخه تلف شي ضمان ورباندې لازميږي، که هغه شی په پوره ډول له مينځه لاړشي په همدې خاطر يې قرض هم ساقطيږي، هرکله چې قرض اداء شو ګرو شوی جنس خپل اصلی مالک ته ورکول کيږي.
۲. ځينې مشائخو د عرف د حکم په اساس ويلي دي، چې دا بيع صحيح ده؛ نو که دا کور پوره له مينځه لاړو بايع د پيسو په ورکولو باندې مکلف ندې، زيلعي ويلي: فتوا د دې بيع په جوازده؛ چې د بعضې احکامو افاده ورڅخه کيدای شي مثلاً: له هغه منفعت اخيستلای شي؛ خو په چايي خرڅولای نشي.
۳. قاضي خان وايي په دې موضوع کې تفصيل دی، که عقد د بيع په لفظ وشي بيانو رهن نشي کيدلای، بيايي که فسخه عقد کې شرط کړه، يا يې وويل: (بيع په شرط د وفاء)، يا يې بيع وويل خو دا ډول بيع ددوی په نزد لازمه نه وه، په دې ټولو صورتونو کې بيع فاسده ده. که په بيعه کې يې د وفاء شرط ذکر نه کړو؛ خو ورسته يې وفاء د وعدې په توګه شرط کړه په دې صورت کې بيع جائز ده. او په شرط وفاء لازمه ده، ځکه ډيری داسې معاملې د ضرورت له وجهې کيږي او د دغې فقهي قاعدې سره مطابقت کوي چې وايي: (مَا ضَاقَ عَلَى النَّاسِ أَمْرٌ إلَّا اتَّسَعَ حُكْمُهُ).
٤. د (العدة او ظهيرالدين) له نظره: بيع وفاء بيع فاسده ده، که بيع سره ملحق شي هغه هم فاسدوي اګر که دا الحاق د بيع تر مجلس ورسته وي. که يې اول وفاء شرط کړه او

[1] – دررالحکام شرح غررالاحکام:ج۲ ص۲۰۷.

[2] – مجلة الاحکام العدلية، ماده: (۳۲).

بيايي عقد مطلق او د شرط پرته و تړلو؛ نو که يي دوهم عقد په اول عقد باندې بناء کړی نوو دا عقد جائز دی اول عقد يې اعتبار نه لري.

٥. د خوارزم د علماؤ له نظره، که له شرط پرته مطلق بيع و تړي خو مشتري وکيل ونيسي يا خپله وعده وکړې؛ چې هرکله بايع پيسې ورکړي نو دی به بيع فسخ کوي، او پيسې هم د مبيعې د قيمت په اندازه نوي او په هغه کې غبن فاحش وي، نو که داسې وؤ دا رهن دی که داسې نوو بيا نو دا بيع بات ده.

٦. دامام زاهد په نزد، د وفاء شرط په بيع کې ذکر نشي دا بيع د مشتري په حق کې صحيح ده. تردی چې هغه يې د نزول مالک کيدلای شي يعنی کولای شي دې کور کې بل څوک و ووسوي؛ خو د بايع په حق کې دا بيع رهن دی، نو مشتري د هغه مالک ندی. نه يې بل چاته ورکولای شي؛ هر کله يې چې دين حاضر کړو مبيعه به واپس ورکوي، ددې په شان اسلامي شريعت کې ډيرې مرکبې بيعې شته دي؛ نو د حاجت په خاطر د نورو مرکبو بيعو په شان جائز وګڼل شوه. تر څو په سود کې واقع نشي.

٧. د هدايې مصنف او زمونږ د زمانې د مشائخو له نظره بيع وفاء صحيح نده (وعليه الفتوى)، يعني مشتري مبيعه نشي خرڅولای، که يې له منافعو څخه استفاده وکړه او يايې څه ترې وخوړل د هغه ضمان پرې شته دی. که هلاکه شوه ضمان نه لري.

٨. بعضې جامع محقيقن علماء وايي چې بيع وفاء په بعضې احکامو کې فاسده ده تر دې چې هر يو د بايع او مشتري د هغه د فسخې حق لري. په بعضې احکامو کې صحيح ده لکه منافع د مبيعې، او په بعضو احکامو کې رهن ده او هغه دا چې مشتري د هغه د خرڅولو او ګرو کولو حق نه لري، ونې يې نشي قطع کولای کور او خونې يې نشي ورانولای، په هلاک سره يې قرض نشي خلاصيدلای، د نقصان په صورت کې د رهن په شان پيسې په هغه تقسيميږي.

**فتاوی هنديې د بيع وفاء د صحت او فساد لپاره څلور صوتونه ذکر کړي:**

١. هغه عقد چې د راهن او مرتهن تر مينځ تړل کيږي که د بيع په لفظ وي بيع وفاء دي.

٢. که راهن او مرتهن فسخه په عقد کې شرط کړي بيعه فاسديږي.

٣. که عقد د بيع په لفظ و تړل شي او وفاء ورسره شرط کړي، يا په بيع جائز تلفظ وکړي او ددوی ترمينځ دا ډول بيع لازمه نه وه؛ بيا هم بيع فاسديږي.

۴. که يې بيعه له شرط پرته ذکر کړه د عقد تر تړلو وروسته يې شرط د وعدې په شان ذکر کړو، په دې صورت کې بيع جائز ده. په وعده باندې وفاء کول لازم دي[١].

**د بحرالرايق مصنف ابن نجيم مصري وايي**

بيع وفاء يو عقد دی، چې د زرافې په شان له دريو عقدونو څخه مرکب دی. د خلکو د حاجت او ضرورت له وجهې جواز ورکړل شوی دی په دې شرط، چې دواړه بدلين

---

[١] – الفتاوى الهنديه: ج٣ص٢٠٩.

سلامت خپلو څښتنانو ته تسلیم کړل شي؛ خو په افتاء کې به د جامع محقیقینو علماؤ د قول څخه عدول نه کیږي[1].

مجلة الاحکام العدلیه هم د ابن نجیم مصري اخیریني یعني آتم قول ته ترجیح ورکړې ده او داسې لیکي: (الْمَادَّةُ ١١٨) بَيْعُ الْوَفَاءِ هُوَ الْبَيْعُ بِشَرْطِ أَنَّ الْبَائِعَ مَتَى رَدَّ الثَّمَنَ يَرُدُّ الْمُشْتَرِي إلَيْهِ الْمَبِيعَ وَهُوَ فِي حُكْمِ الْبَيْعِ الْجَائِزِ بِالنَّظَرِ إلَى انْتِفَاعِ الْمُشْتَرِي بِهِ وَفِي حُكْمِ الْبَيْعِ الْفَاسِدِ بِالنَّظَرِ إلَى كَوْنِ كُلٍّ مِنْ الْفَرِيقَيْنِ مُقْتَدِرًا عَلَى الْفَسْخِ وَفِي حُكْمِ الرَّهْنِ بِالنَّظَرِ إلَى أَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَا يَقْدِرُ عَلَى بَيْعِهِ إلَى الْغَيْرِ[2].

**د برنیو اقوالو خلاصه او راجح قول**

راجح قول دادی چې د خلکو د حاجت له وجهې د لاندې دلائلو په اساس بیع وفاء جائزه ده.

١. د مجمع النواز داقول چې: (زمونږ په زمانه کې د مشایخو په اتفاق بیع وفاء بیعه ده)، لکه چې همدا نظر د بعضې سلفو هم دی، ځکه بایع او مشتري له کوم شرط پرته په بیع تلفظ کوي او اعتبار ملفوظ ته دی چې نص وي نه مقصود ته، چې په دې سره د مجلة الاحکام دغه دوو مادو ته اشاره ده: (الْمَادَّةُ ٢): الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا. يَعْنِي: أَنَّ الْحُكْمَ الَّذِي يَتَرَتَّبُ عَلَى أَمْرٍ يَكُونُ عَلَى مُقْتَضَى مَا هُوَ الْمَقْصُودُ مِنْ ذَلِكَ الْأَمْرِ. (الْمَادَّةُ ٣): الْعِبْرَةُ فِي الْعُقُودِ لِلْمَقَاصِدِ وَالْمَعَانِي لَا لِلْأَلْفَاظِ وَالْمَبَانِي" څرنګه چې بایع او مشتري دواړه غواړي له مبیعې څخه استفاده وکړي، نو اګرکه یې ګرو هم ویلي وي دا بیع وفاء ده ځکه د ګرو په صورت کې له مبیعې څخه استفاده کول روا نه دي.
٢. مجلة الاحکام لیکي: د خلکو د حاجت او ضرورت له وجهې دا بیعه د سلم او استصناع په شان جائز و ګڼل شوه: (الْمَادَّةُ ٣٢) : الْحَاجَةُ تُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الضَّرُورَةِ عَامَّةً أَوْ خَاصَّةً، وَمِنْ هَذَا الْقَبِيلِ تَجْوِيزُ الْبَيْعِ بِالْوَفَاءِ؛ حيث أنَهُ لَمَّا كَثُرَتْ الدُّيُونُ عَلَى أَهْلِ بُخَارَى مَسَّتْ الْحَاجَةُ إلَى ذَلِكَ وَصَارَ مَرْعِيًّا[3].
٣. ابن نجیم مصري په بحرالرایق کې د فقهاؤ د آتو قولونو د نقل کولو ورسته لیکي: قُلْتُ: هَذَا الْعَقْدُ مُرَكَّبٌ مِنْ الْعُقُودِ الثَّلَاثَةِ كَالزَّرَافَةِ فِيهَا صِفَةُ الْبَعِيرِ وَالْبَقَرِ وَالنَّمِرِ جُوِّزَ لِحَاجَةِ النَّاسِ إلَيْهِ بِشَرْطِ سَلَامَةِ الْبَدَلَيْنِ لِصَاحِبِهِمَا اهـ[4]. یعني بیع وفاء له دریو عقدونو څخه یو مرکب عقد دی لکه زرافهٔ، د خلکو د حاجت لپاره جواز ورکړل شوی دی په دې شرط چې دواړه بدلین موجود او سالم وي، خپلو څښتنانو ته تسلیم شي.
٤. ورسته له دې چې ابن نجیم مصري د خلکو د حاجت لپاره د بیع وفاء جواز نقل کوي بیا وایي: مناسب نده چې د جامع محقیقن علماؤ له قول پرته فتوا ورکړل شي: وَيَنْبَغِي أَنْ لَا يُعْدَلَ فِي الْإِفْتَاءِ عَنْ الْقَوْلِ الْجَامِعِ[5]. د قول جامع نه مرد آتم قول دی، چې بره ذکر شوی دی.

[1] – البحرالرایق: ج٦ص٩.
[2] – مجلة الاحکام العدلیة.
[3] – مجلة الاحکام العدلیة.
[4] – البحرالرایق: ج: ٦ ص: ٩.
[5] – البحرالرایق: ج: ٦ ص: ٩.

٥. الاشباه و النظائر د: الْحَاجَةُ تَنْزِلُ مَنْزِلَةَ الضَّرُورَةِ، عَامَّةً كَانَتْ أَوْ خَاصَّةً، مادي لاندې ليکي: وَمِنْهَا الْإِفْتَاءُ بِصِحَّةِ بَيْعِ الْوَفَاءِ حِينَ كَثُرَ الدَّيْنُ عَلَى أَهْلِ بُخَارَى وَهَكَذَا بِمِصْرَ[١]. يعنې هرکله چې په مصر او بخارا کې قرضونه زيات شول د بيع وفاء په صحت باندې فتوا ورکړل شوه.
٦. درر الحکام چې کله د الاشباه والنظائر ماده چې په جواز د بيع وفاء ده نقل کوي بيايې په فروعاتو کې ليکي: وَيُفْهَمُ مِنْهَا أَنَّ بَيْعَ الْوَفَاءِ كَانَ مَمْنُوعًا، وَقَدْ جُوِّزَ بِنَاءً عَلَى الضَّرُورَةِ[٢]. يعني اصلا بيع وفاء جائزه نده؛ خو د خلکو د ضرورت له وجهې جواز ورکړل شوی دی.
٧. زيلعي په تبيين الحقايق کې د بيع وفاء په هکله درې نظرونه نقل کړي دي: ( ١- د بعضې علماؤ په نزد دا بيع مکروه ده. ٢- د بعضې نورو علماؤ په نزد رهن ده. ٣- خو د سمرقند علماء يې جائز بولي)، د ابن نجيم مصري قول داسې نقل کوي: اتَّفَقَ مَشَايِخُنَا فِي هَذَا الزَّمَانِ فَجَعَلُوهُ بَيْعًا جَائِزًا مُفِيدًا، بَعْضُ أَحْكَامِهِ وَهُوَ الِانْتِفَاعُ بِهِ دُونَ الْبَعْضِ وَهُوَ الْبَيْعُ لِحَاجَةِ النَّاسِ إلَيْهِ وَلِتَعَامُلِهِمْ فِيهِ: يعني زمونږ د زمانې مشائخ د بيع وفاء په جواز اتفاق لري دا بيعه يې په بعضې احکامو کې جائزه، مفيده ګڼلې ده. يعني خلک کولای شي له هغه څخه نفع واخلي؛ خو په بل چايې خرڅول روا نه دي. دا جواز يې ځکه ورکړی، چې خلک دې ته ضرورت لري. دا تعامل هم دی.
٨. همدارنګه زيلعي د بيع وفاء د جواز تر نقل کولو ورسته وايي: وَالْقَوَاعِدُ قَدْ تُتْرَكُ بِالتَّعَامُلِ وَجَوَّزَ الِاسْتِصْنَاعَ لِذَلِكَ وَقَالَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى[٣]. يعني که څه هم بيع وفاء د اصلي قواعدو په اساس روانه ده؛ خو کله کله قواعد د تعامل او عرف له وجهې پريښول کېږي، چې له همدې وجهې استصناع ته هم جواز ورکړل شوی دی. د نهايې صاحب وايي چې (وعليه الفتوى).
٩. (وعليه الفتوى) د ترجيح د الفاظو يو قوي توری بلل کېږي، مخالف اړخ ته يې مرجوح ويل کېږي، چې د راجح په صورت کې په مرجوح عمل کول درست نه دي.

---

[١] – الاشباه والظائر: ج: ١ صص: ٩١ – ٩٢.
[٢] – دررالحکام شرح مجلة الاحکام: ج: ١ ص: ٤٢.
[٣] – بيين الحقايق: ج: ٥ ص: ١٨٤.

## پایله

که څه هم مقدمینو علماؤ د شریعت د اصلي قواعدو په اساس بیع وفاء جائز نه بلله؛ ځکه بیع وفاء له قرض څخه مفاد حاصلول دي. په حدیث مبارک کې دې نوع مفاد ته سود ویل شوی دی؛ لکه چې د مبارکو احادیثو په روایتونو کې د علی کرم الله وجه او داسې نورو صحابه کرامو په روایت راغلي: " كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا فَهُوَ رِبًا "[1].

د حنفي مذهب ورستنیو علماؤ د خلکو د ضرورت او حاجت په اساس دا بیعه جائزه ګڼلې ده. په اوس عصر کې همدا قول مفتی به او راجح هم دی.

د اسلامي جوامعو او حنفي فقهاؤ عرف هم په دې دی، چې د تعامل له وجهې په قواعدو باندې عمل کول پرېښودل کېږي.

اما باید ووایو، چې تقوا د بیع وفاء په نه کولو کې ده، ځکه اصلا دا بیعه د ضرورت په اساس جائزه شوې ده، نو باید د ضرورت سره سم ترې کار واخستل شي. د ضرورت په ختمېدلو دا بیعه هم بنده شي؛ نو ښه ده چې د امکان په صورت کې دا بیع ونه شي؛ خو که ضرورت وي نو د شک پرته له دې بیعې استفاده کولای شو. له فقهي قواعدو هم څرګندېږي، چې کوم څه د ضرورت په اساس جائز شوي وي. هغه به د ضرورت په اندازه وي، یعني د ضرورت د پای ته رسېدو سره سم به د هغه جواز هم پای ته رسېږي.

په آخیر کې د الله جل جلاله له لوی دربار څخه غواړم، ترڅو دا رساله زما لپاره د عفوې، بخشش او د الله جل جلاله درضایت سبب شي. او د ټول مسلمه امت لپاره د نفع، برکت او اسلامي وروروله عامل وګرځي، وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله و اصحابه اجمعین.

---

[1] – مرقات شرح مشکاة: ج: ۵ ص: ۱۹۲۶.

**اخځليک**


١. ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ١٢٥٢هـ)، **رد المحتار على الدر المختار.** الناشر: دار الفكر، بيروت، الطبعة: الثانية، ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م.

٢. ابْنِ نُجَيْمٍ، الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْمِ (٩٢٦-٩٧٠هـ)، **الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ.** الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة : ١٤٠٠هـ=١٩٨٠م.

٣. ابْنِ نُجَيْمٍ، الشَّيْخ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ بْنِ إِبْرَاهِيْمِ (٩٢٦-٩٧٠هـ)، **البحر الرائق شرح كنز الدقائق.** الناشر: دار الكتاب الإسلامي، الطبعة: الثانية ، ب ت.

٤. أبو عبدالله البخاري الجعفي، محمد بن إسماعيل، **صحيح البخاري.** الناشر: دار طوق النجاة، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ.

٥. الزيلعي، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الحنفي (المتوفى: ٧٤٣ هـ)، **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق،** الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية، بولاق، القاهرة، الطبعة: الأولى، ١٣١٣ هـ.

٦. الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند، **الفتاوى الهندية.** الناشر دار الفكر، سنة النشر ١٤١١هـ - ١٩٩١م.

٧. لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، **مجلة الأحكام العدلية.** الناشر: نور محمد كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي، ب ت.

٨. المرغيناني، علي بن أبي بكر الفرغاني أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣هـ)، **الهداية في شرح بداية المبتدي.** الناشر: دار احياء التراث العربي، بيروت، لبنان، ب ت.

٩. ملا خسرو، محمد بن فرامرز (المتوفى: ٨٨٥هـ)، **درر الحكام شرح غرر الأحكام.** الناشر: دار إحياء الكتب العربية، ب ط، ب ت.

١٠. ملا علي قاري، علي بن سلطان محمد، أبو الحسن نور الدين، (المتوفى: ١٠١٤هـ). **مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح،** الناشر: دار الفكر، بيروت لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ.